# د زمري ۲۸مه
# د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته تر لاسه
# کولو ۹۷یمه کلیزه دې مبارکه وي!


# زېری

**پنځلس ورځنۍ جریده**

**د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي**

**چهارشنبه ۹ ـ ۱۰مه گڼه، درېیمه دوره، پرله پسې ۲۵۷ـ ۲۵۸ مه گڼه ، د ۱۳۹۵ لمریز کال د زمري (اسد) ۲۷ مه ،د ۱۴۳۷هـ.ق. کال، د ذوالقعدةالحرام ۱۳ مه او د ۲۰۱٦ز . کال د اگست ۱۷مه.**


## د خورا پېرزو کوونکي او لوروونکي الله په نامه

### سرلیکنه

## پښتو خپروني

پښـــتو د گران افغانســـتان، یوه پېژندل شــوې ملي او رســمي ژبه ده، چې په هېوادنۍ کچه، اکثریت وگړي پرې خبرې کوي. د آریا نا دایرة المعارف د دوهم ټوک، د ٤١٥ مخ پر استناد : «پښتو ژبه، له ۱۳۱۵ش.(۱۹۳٦م.) کال را هیسې په افغانستان کې رسمي ژبه ده.» د افغانستان ا سلامي جمهوریت، د اساسي قانون په شپاړسـمه ماده کې، په دې اړه ، داسې لیکل شـوي دي : «پښتو او دري د دولت رسمي ژبې دي.»

پښـــتو ژبه، په خپلو دا حق لري، چې په هر ځای کې، د دې حقوق تامین شي. په هغو حکومتي رســـمي خپرنیزو ارگانونو کې، چې په دوو او یا درېو ژبو باندې، یو او بل ځای خپرېږي، زیاتره لیدل کېږي، چې د پښـــتو مقالو شـــمېر یې بېخې کم وي، ان له یوه یا دوو مطلبونو څخه زیات نه وي او ځینې مســـوول مدیران یې، داســـې د نه منلو وړ کمزوری دلیل راوړي، چې پښتو مضامین لږ را رسېږي، مگر دا دلیل ځکه ناسم برېښي، چې د مجلو او

له اختره وروســـته یوه دوســـت د مېلمســـتیا بلنه راکړه، راته ویې ویل: په خپل لاس سیخي کباب پخوم. ورغلم. غوښه، سکاره، منقل، هر څه تیار و ،خو د نارینه و کار و، کوربه لم هیر کړی و. یوه زلمي ته یې وویل: ورشه له هوټله یو نیم کیلو چربي راوړه!

زلمی چې له لم سره راســـتون شـــو، کوربه ورته وویل: دا خو دې ډېر شی راوړی دی!

زلمي وویل: زیات نه دی یونیم کیلو دی.

کوربه وویل: ما نیم کیلو درته ویلي وو، نه یونیم.

د کوربه مقصد نیم کیلو و خو (یو) یې ورسره هسې زیات کړی و. موږ وایو: یو انســـان باید قتل ونه کړي. دلته هم منظور دا دی چې انسان( = نوع انسان) باید قتل ونه کړي، نه ایکي یو کس.

په هغه شـــپه دوســـتانو نورې خبرې کولې او زه په زړه کې له (یو) سره بوخت پاتې شوم.

زموږ پـه لیکنو کې ( یو) کلـه نـا کلـه بې ضرورتـه اســـتعمالیږي. (یو) نه یواځې زما د کوربه مصرف ډېر کړ بلکې په هغه بله جمله کې یې هم د ژبې اقتصـــاد ته تاوان ورســـاوه. هره هغه کلمه چې په جمله کې گټور نقش نه لري او خاصه اړتیا نه پوره کوي، د بې ځایه اوږدېدا سبب گرځي. که موږ ولیکو چې انســـان باید قتل ونه کړي، نه یواځې لنډون راغی، بلکې معنا هم دقیقه شوه.

رحمان بابا فرمایي:

**هیڅ مانه دې څوک له مستو سترگو نه کا**<br>
**کوم یو مست دی چې قدم په لاره سم ږدي**

## یو

**اسدالله غضنفر**

مخاطب ته د کور نه بلکې د پیســـو د اســـتفادې په اړه معلومات ورکوو.

که ســـتا د لاس په کڅوړه کې کتاب وي او محمود درڅخه وپوښـــتي چې: « کڅوړه کې څه دي؟.» نو ته که غواړې چې محمود کتاب وپېژني، ممکن ووایې: « کتاب دی.» خو که دغه دلچســـپي نه لرې، وبه وایې:« یو کتاب دی.»

« هغه یو کتاب چې تا سې یې ستاینه کوله، په بازار کې نه پیدا کیږي.» دلته په (یو) باندې هیڅ نیمگړې نه پوره کیږي او ناسم یې بللای شو.

البته، په دې جمله کې (یو ) ضرور دی:« زموږ په کوڅه کې یو تکړه انجنیر اوســـیږي.» ځکه په نورو ځایونو کې هم طبعا لایق انجنیران شته. که څوک د دې سړي په باره کې پوښـــتنه رانه وکړي چې لایق انجنیر دی؟ نو په ځواب کې به وایم: « هو، لایق انجنیر دی.»

خوشحال خټک فرمایي:

**خدای یو هسې فکر راکړ**<br>
**چې یې ملک راته رڼا کړ**<br>
**که په نورو توره شپه ده**<br>
**په خوشحال یې سپین سبا کړ**

د پخواني ادب د ( څه خو) په ځای نن ســـبا معمولا (یو څه) راوړو. په تاریخ مرصـــع کې لولو:« **عادل خان مضـــطربه او پریشـــان شـــه، ورته یې ووې څه خو صـــبر وکړه.**»

په دســـتار نامه کې راغلي دي:« **دنیا له چا سره وفا کړې ده چې له ما سره به یې کا. دا هونبره ملوکان څه شـــول؟ د دوی ملک، خزانې څه شـــوې؟ خو وار و، په هر چا تېر شه.**»

په اوســـنۍ پښـــتو کې ( یو) له ځینو نورو کلمو سره ترکیب شـــوی او نوي لغتونه یې جوړ کړي دي. مثالونه: یو اړخیز، یومخیز، یو ورځنی ســـیمینار، یو گوندي نظام، یو ســـیلابه کلمه، یو طرفه سړک. دغه ډول ترکیبونه په پخوانو کتابونو کې نـه مومو. البتـه، د یو ســـترگي او یو وزري غونـدې ترکیبونه د ولس په ژبه کې له پخوا راهیســـې شـــته دي. په او سنۍ پښتو کې ممکن واورو:« له هغه یو ډول وېره لرم.» چې د پښـــتو گرامر له نظره غلط نه ښـــکاري خو ښـــه نه را بـانـدې لگیږي ځکـه د ذهن د لټي بـاعـث گرځي او د توضـــیح لـه زحمتـه د تیښـــتې چـل راښـــیی. یو ډول وېره! اخرڅنگه وېره؟

په (یو څه)، (یو څو کسه) او (یو شمیر کسان) کې (یو) د (څه)، (څو) او (شـــمیر) د کموالي معنا ښـــندي او دا د (یو) یو بل نقش دی.

(یو په یو ناســـته) یعنې چې دریم کس پکې نه وي او په غزني کې په ځینو لهجو کې (یو په یو شـــو.) د ناڅاپي او فوري مړینې معنا ورکوي. (یو په درې) یعنې درې برابره

اخبارونو مسوول چلوونکي مکلف دي، له یوه او بل ځایه، پښتو مضمونونه را پیدا کړي او په اخبار او مجله کې، د دواړو ژبو د ویونکو قانوني حق (نیمایي یعنې په سلو کې پنځوس سلنه) تامین کړي. دا حق، قانون ور کړی او د دې قانون ماتېدنه ، د انساني حقوقو ښکاره نقض بلل کېږي. له لیکوالو چې پوښـــتنه وکړې، هغه وایي، چې زموږ د مقالو د چاپ په برخه کې، بې پروایي او ښکاره غفلت کېږي، که زموږ مطالب، په ورین تندي باندې ومنل شي او چاپ شي، د مقالو د لیکلو او اخبارونو او مجلو ته، د هغو د ور استولو په برخه کې، زموږ مینه او علاقمندي ډېرېږي او دا ستونزه، په دایمي ډول له منځه ځي. له دې امله، هغه مجلې چې په دواړو ملي او رســمي ژبو خپرېږي، د دواړو ژبو پښتو او دري د مضامینو انډول ساتل ورته په کار دي او که یو نیم مضمون، په یوه ژبه ښه لیکل شوی وي او نوښت په کې پروت وي، له انډول پرته یې چاپ جواز لرلای شي. له هغو لیکوالو سره، چې په دې برخه کې خبرې شــوې دي، هغوی دا دلیل راوړي، چې له موږ نه په پښتو ژبه ،د ژباړل شویو مطالبو غو ښتنه کېږي او بې ضرورته ترجمه، زموږ لپاره او زموږ د مورنۍ ژبې پښــتو لپاره، ډېره زیانمنه ده، چې رښــتیا هم ده. لکه څنګه چې لیدل شوي دي، بې ضرورته ژباړه، پښتو د ابتذال پر لور ور ټېله کوي او په پښتو ژبه کې، د لیکوالو د کمښت تشه رامنځته کوي، چې د دې کار، له ګټې څخه تاوان ډېر دی. له دې امله، هغه واک لرونکي لوړ رتبه مقامونه، چې د خپرنیزو ارګانونو د ارزونې حق، واک او صلاحیت لري، له دې زاویې هم، یو خپرنی ارګان مطالعه کولای شي، چې په دې نشرـاتي ارګان کې، د دواړو ژبو د ویونکو قانوني حق، څومره تامین شوی دی. دوی دا ارزونه، د اخبار او مجلې له مســوولو مدیرانو او د خپرنیزو ارګانونو له مشرانو نه، د قانوني پو ښتنې او قانوني استنطاق تر بریده پورې غځولای او پر مخ وړلای شي. له دې پرته، په دې برخه کې، د پښتنو لیکوالو ګیله د پام وړ ټکی دی.

د ډېر افســوس ځای دی، چې زیاتره پښــتانه، لا اوس هم، د پښــتو ژبې د حقوقو د تامین په برخه کې، بې پروا دي، که چېرې دوی دې ټکي ته کلکه پاملرنه وکړي، دا کار نه تکرارېږي!

ښــه به دا وي، چې د ژوندانه په هر ډګر، په ځانګړې توګه، په علمي او نشراتي برخه کې، د پښتو ژبې قانوني حقوق، ښه په خوشحالۍ سره ورکړل شي او په دې ډول، حق په حقدار باندې وســپارل شي. خپل ځان ته حق ورکول او د نورو حق په خوشــحالۍ منل، یو ډېر لوی کمال دی. یو پوه وایي: «حق ورکول کېږي نه، اخستل کېږي.» دا خبره، د پښتو ژبې د قانوني حقوقو د تامین په برخه کې هم صدق کوي.

**راحت بې زحمته نه دی چا موندلی**
**کوم طبیب دی چې په روغ صورت مرهم ږدي**

(کوم طبیب) روان ویل کېږي، خو په (کوم مســت) کې د دوو میمونو څنګ په څنګ والی ثقلت پیدا کوي او رحمان بابا چې د کلام رواني او ســلاســت یې ســبکي ځانګړنه ده، په اول بیت کې د (یو) د راوړلو ضرورت احســاس کړی دی. دلته (یو) بې نقشــه نه دی او په کلام باندې نه بار کېږي.

په دســتار نامه کې لولو:« **یوه ملوک خاورې خوړلې. طبیبانو یې علاج کاوه. له خاورو منع نه شــه. یو حکیم لاف وکړ چې زه به یې علاج وکړم. ور ویې باله. ورته یې ووې چې خاورې مه خوره! ملوک وویل چې زړه مې ورځنې نه درېږي.**» کله چې مخاطب ته یو څوک یا یو شــی نامعلوم وي نو تر نامشــخص اســم له مخه (یو) لیکو، لکه یو ملوک یا یو حکیم. په ورپســې جملو کې له ذکر شــوي اســم سره (یو) نه راوړو. په ورپســې جملو کې چې نااشنا اسم ته اشاره کوو، یا اشاري صفتونه (مثلا: هغه حکیم) ورسره راوړو او یا د دســتارنامې د پاســنیو جملو غوندې اشــاري صــفتونو ته هم ضرورت نه وینو، ځکه پوهېږو چې منظور هغه حکیم دی. (تر اوســني نثر په پخواني نثر کې داســې جملې زیاتې دي چې د نا معلوم کس د اســم د دوباره یادولو په وخت له اشــاري صــفته استفاده نه کېږي.)

په اوسني نثر کې ممکن (یو وار) ولیکو چې زما په ګومان د خوشحال طرز بهتره دی.

هغه اسم چې د مخاطب لپاره نامشخص وي، نکره بولو او چې د مخاطب لپاره معلوم وي، معرفه بلل کېږي. (یو) د اســم د نکره کولو وســیله هم ده. د دســتارنامې په پاســنیو جملو کې د حکیم او پا چا د دویم ځلي ذکر په وخت ځکه (یو) نشــته چې نور نو مخاطب پوهېږي چې هغه پــاچــا مراد دی چې خــاورې یې خوړلې او هغـه حکیم یادوو چې د پاچا د علاج لاپه یې کړې وه.

که محمود له احمده وپوښتي چې :« په هغو پیسو دې څه وکړل؟» او احمد ځواب ورکړي: « یو موټر مې واخیست.» دلته « یو» ته ضرورت شــته ؟ زما په نظر دلته (یو) ته اړتیا نشته، ځکه د (موټر) له کلمې پوهېږو چې څو نه بلکې یو موټر پیرودل شــوی دی او د محمود دلچســپي د پیســو له برخلیک سره ده، نه د جنس په باره کې له دقیقو معلوماتو سره. همدا وجه ده چې دغسې پوښتنو ته د ځواب ورکولو په وخت خلک معمولا (یو) نه استعمالوي.

موږ وایو« نن مې یو موټر ولید، ډېر ښکلی و...» دلته (یو) د دې لپاره راوړو چې مخاطب ته وایو د داســې موټر په باره کې خبرې کوو چې ستا په ذهن کې نشــته خو په هغه بل مثال کې ځکه (موټر مې واخیســـت) غوره بولو چې دلته (یو) د (هســې) په کلمې باندې تاکید زیات کړی دی او یوه ګټوره معنا رسوي. (یو) په ډېرو جملو کې تاکیدي نقش لري. د رحمان بابا لاندې بیت د (یو) د دغه نقش بل مثال دی:

**یو د حسن اور یې بل کړ په جهان کې**
**په دا اور باندې یې وسوه ډېر کورونه**

(یو) او مختلف ترکیبونه یې مختلفې معناوې لري چې په څېړنه او سپړنه ارزي.

د رحمان بابا په لاندې بیت کې (یو) د (یو شـــان) معادل دی:

**مخ د یار شمس و قمر درې واړه یو دي**
**قد و سرو و صنوبر درې واړه یو دي**

د خوشحال خټک په دغه بیت کې (یو) د فقط او یواځې معنا ښندي:

**پښتانه مغول هندکي واړه خوشحال دي**
**لیونی خو یو خوشحال دی په دا منځ کې**

د خوشـــحال بابا په دا بل بیت کې (یوه) د (بله نه ده) معادل ښکاري:

**توکلت علی الله وینا یوه ده**
**د خوشحال له زمانې سره ساز نشته**

د رحمان بابا په لاندې بیت کې (یوه) د (حتی یوه) او (هیڅ ) معادله ده:

**ستا په عشق کې هسې خلاص یم له شعوره**
**چې یوه خبره نه لرم منظوره**

(یو یو) د قید او صفت په بڼه راځي.

خوشحال فرمایي:

**دواړه تي یې ناشپاتي دي**
**چې یې یو یو امرا خوري**

د شاعر په قول دغه نا شپاتي (ناک ډوله مېوه) چېرته یونیم اشرافي ســړی خوړلای شي. البته، که یو یو قید وبولو نو شاعر وایي چې اشرافي دغه ناشپاتي په ترتیب سره خوري. په دې بیت کې د (یو یو) دوه ګوني تعبیر د شــعر ښــکلا زیاته کړې ده.

(یو) چې له ځل، کرت یا وار سره یو ځای شي، قیدي عبارت جوړوي:

**یو وار دې لاس په لاس کې راکړه**
**دا لاس نیوی به دې تر ډېرو یادومه**

په پخواني ادب کې د (یو زمان) عبارت ډېر وینو چې د (یوې شیبې) په معنا راځي، حال دا چې نن سبا (یو زمان) د یو وخت او اوږدې مودې لپاره استعمالوو.

او (یو پر درې) د دریمې حصې په معنا استعمالوو.

(یو هغه څوک چې بشرـ ته یې ډېر خدمت وکړ، پاســتور دی.) ځینې لیکونکي همدا جمله ممکن داســې ولیکي: «هغه یو څوک...» زما په ګو مان لومړی ترتیب معیاري دی، ځکه (هغه) اشــاري صــفت دی او اشــاري صــفت له موصوف سره جوخت په کار دی.

په پښتو پښویه کې استاد زیار لیکي چې (یو) د تخمین او اټکل لپاره هم اســتعمالېږي.« یو ســل کســه به وو» یعنې شاوخوا سل کسه به وو. زما د کوربه په (یو نیم ) کې (یو) د تخمین معنا ښــندله، یعنې نیم کیلو یا څو ګرامه زیات و کم.

ځینې لیکونکي د مونث اســم لپاره هم (یو) اســتعمالوي چې په کار ده، یوه مڼه ووایو، نه یو مڼه. خو په شــعر کې کله نا کله د مونث دوه ســیلابي (یوه) د وزن په خاطر یو سیلابي شي چې د پښتو شعر د شعري اختیاراتو ( **Poetic Licence**) په بحث کې ورته جواز پیدا کېږي خو که ( یو) یواځې د وزن د پوره کولو لپاره راوړو، عیب یې بللای شو.

[ کله نا کله په شــعر کې ( زړه ) زړګي شي او د ( تل) قید له فعل سره مل شي، او مقصــد صرف دا وي چې د وزن د نیمګړتیا مخه ونیسي. د کلمو دا رنګه استعمال د شعر د بې خوندۍ ســبب کېږي. د هغو کلمو پیژندل او راټولول چې شـــاعران وربانديې یواځې وزن پوره کوي، زموږ د نقد او شعر پیژندنې یو نا سپړلی باب دی. دغه راز په پښتو کې د شــعري اختیاراتو د حدودو د معلوموللو لپاره څېړنو ته اړتیا ده. په دې باب اســتاد منلي په ازادي راډیو کې یو ګټور بحــث کړی و چې کــاشــکې‌یې ځوان محققــان پســې وغځوي او معیارونه وټاکي.]

د خوشحال بابا یوه قطعه ده:

**یو چې ډیر خوري سوګندونه**
**بل چې ډیر کاندي پورونه**
**اشنایي ورسره مه کړه**
**دا بې پته دي کارونه**

په دې قطعه کې د معنا په ښکلا سربیره ناڅاپي پیل هم یو خونـد پیـدا کړی دی. موږ معمولا لـه مقـدمـاتي خبرو وروسته ، یو، دوه، بل... ته رسیږو خو خوشحال چې خپله خبره له (یو) څخه پیل کړې، موږ یې د نا څاپي والي په خوند کې شریک کړي یو.( د ناڅاپي والي ښکلا زموږ په بلاغي کتابونو کې نه معرفي کېږي او په معرفي ارزي.)

د (یو) د بلاغي نقش پیژندل، په پخواني او اوسني سبک کې د (یو) او د هغه د ترکیبونو او معنا ګانو راټولول، د (یو) د نا سم ا ستعمال د مواردو معرفي کول، په ولسي ژبه او لهجو کې د (یو) د معنا ګانو او ترکیبونو راغونډول او شنل د ځوانو ژبپوهانو لپاره د ګټور تحقیق موضوع ده.

# د علامه پوهاند عبدالحی حبیبي یوه خاطره

ښېرنوال محمدنبي صلاحي



د علامه پوهاند عبدالحی حبیبي د ناروغۍ په وروستیو شپو او ورځو کې، د کابل پوهنتون د ژبواو ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې یو شمېر محصلینو، چې په هغو کې زه هم شامل وم، دا نیت وکړ چې له نږدې نه د استاد زیارت او پوښتنه وکړو. استاد په هغه وخت کې، کابل پوهنتون ته څېرمه په جمال مېنه کې اوسېده.

موږ چې کله د استاد کور ته ورغلو، هغه د ناروغۍ په بستر کې زښت ډېر زهیر شوی و. موږ حیران دې ته شوو، چې استاد د مرگ او ژوند د دغسې سخت کشمکش په حالت کې هم، یو کتاب په لاس کې په دومره مینه او محبت سره نیولی و، لکه یو څوک چې یو وړوکی ماشوم په غېږ کې ونیسي ـــ او یا نازک گل په گوتو کې ور پورته کړي.

په هغه وخت کې، د علامه استاد له لیکل شویو آثارو سره یو ځای، د هغه یو عکس هم چاپ شوی و. موږ دغه عکس د استاد په کور کې ولید، چې د ډېر تاریخي ارزښت وړ دی. په دغه کښل شوي عکس کې، د استاد په قلم چې کوم کتابونه لیکل شوي وو، ددغو کتابونو ونه، دده له ونې نه لړ څه او هغه د اکاډمیسین علامه پوهاند عبدالشکور رشاد خبره، دوه گوتې ټیټه معلومېده. دغه عکس، موږ د لومړي ځل لپاره ولید، موږ یې بېخي حیران کړو. موږ دې ته سوچ یووړو، چې له جسمي پلوه دغه کمزوري او یو موټي سړي ته وگورئ او له فکري اړخه، دده ستر قلمي کار ته. په دې ډول، موږ ټول دده ادبي او تاریخي همت ته هک پک شوو او دده تاریخي کارنامو ته مو، د حیرانتیا گوته په غاښ ونیوله او د هغو څومره والی (کمیت) او څرنگوالی (کیفیت) مو دواړه وستایل.

په خبرو ـــ خبرو کې، زموږ له خوا، د استاد نادر او لومړني کارونه، په ښه خوله بیا ـــ بیا یاد شول. عروضو او د پښتو شعر د اوزانو په برخه کې، د تاسي هر ډول مشکل، ډېر ښه حل کولی شي!»

په موږ کې یوه محصل ورته داسې وویل:

«استاده! عجیبه خبره خو داده، چې د استاد رشاد تر لیکنه، د هغه د ماخذونو شمېر ډېر وي!»

علامه استاد حبیبي، د علامه استاد اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد دغه کار ډېر و ستایه او هغه ته یې، د یوه امانت کاره لیکوال خطاب وکړ. ورسره یې دا خبره هم وکړه، چې «د استاد رشاد د ماخذ ورکولو سیستم، په ټول شرق کې بې ساری دی!»

شپې او ورځې وتې، یو نا څاپه د استاد د مرگ خبر په ټول هېواد، سیمه او نړۍ کې خپور شو او موږ هیله من یو، چې زموږ د ټولنې نوي شواهد او تجربې، زموږ د افغاني ټولنې هغو تاریخي واقعیتونو ته ، چې ددغه علامه استاد په پیاوړي قلم کښل شوي، نور پرمختگ او انکشاف هم ور کړي .

استاد حبیبي په دې پوره ـــ پوره پوهېده، چې د خپلې څېړنې لپاره کومه او څنگه موضوع انتخاب او وټاکي. دده زیاتره څېړنیز موضوعات نوي دي او په ټولو آثارو کې یې یوه نوې هڅه او تشبث لېدل کېږي. هېڅ اثر یې، له نوښت او ابتکار نه خالي نه دی.

زموږ په افغاني ټولنه، سیمه او نړۍ کې د استاد علمي توان، واک، صلاحیت او ور سره علمي

## دپښتو نثر تاریخي بهیر ته لنډه کتنه

ښېرنوال محمد حکیم تنیوال

د پټې خزانې د مؤلف محمد هوتک د څرگندونو له مخې د پښتو نثر لومړنی لیکوال، چې موږ ته معلوم دی ابو محمد هاشم ابن الزید سرواني (۲۲۳ هـ . ق زوکړه ) دی، چې «د سالو وږمه» په نامه یې د پښتو نثر یو کتاب د درېمې هجري پېړۍ په شا و خوا کې لیکلی دی.[۱] خو د یاد کتاب یواځې نوم موږ ته را پاتې دی، نو ځکه یې د نثر په ځانگړنو او مشخصاتو څه نه شو ویلی.

د پښتو ژبې په لرغوني ادبي دوره کې له سرواني څخه راوروسته د پښتو نثر په لیکوالو کې د سلیمان ماکو نوم پېژنو، چې د (۶۰۰) هـ . ق کال شا و خوا یې د کندهار په ارغستان کې ژوند کاوه او د تذکرة الاولیاء په نوم یې له ۶۱۲ هـ . ق کال څخه وروسته په پښتو نثر یو کتاب لیکلی دی، چې د پښتنو د اولیاوو او عارفانو د ژوند پېښې او ویناوې یې په کې راټولې کړې دي. د دې اثرټول متن تر او سه نه دی تر لاسه شوی، یواځې د سر څو پاڼې یې د زمانې له توفانونو ژغورل شوي او تر موږ را رسېدلې دي. د دې نثر بېلگه په ادبي څېړنو کې د پښتو لومړۍ ترلاسه شوې د نثر بېلگه بلل کېږي، نو ځکه په ادبي تاریخ کې له ډېر ارزښت او اهمیت څخه برخمن دی. دا نثریو تاریخي نثر دی خو د جوړښت له مخې ساده نثر دی، ډېر پیچلي لغتونه او ترکیبونه په کې نه دي کارېدلي.

د تذکرة الاولیاء څخه را ورو سته د رو ښان پیر تر راڅرگندېدو پورې، موږ د پښتو نثرکوم بل لیکلی اثر په لاس کې نه لرو، خو د پټې خزانې لیکوال موږ د ځینو آثارو لکه شیخ کټه (لرغوني پښتانه) د محمد بن علی البستی (تاریخ سوري) د ملا الله یاز (تحفة صالح) او نورو نمونه اخلې او همدارنگه اخوند درویزه په تذکرة الابرار و الاشرار، شیخ میرداد په خپل تاریخ ا فاغنه ،

د هوتکو د واکمنۍ دوران ( ۱۱۱۹ هـ . ق ۱۱۵۰ هـ . ق ) د پښتو ادبیاتو زرینه دوره بلل کېږي. په دې دوره کې پښتو نثر چټکه پرمختیا کړې ده ، د ملا نورمحمد غلجي اثر «نافع المسلمین» چې د مخزن الاسلام په سبک په مسجع نثر لیکل شوی او د محمد هوتک «پټه خزانه» ( ۱۱۴۲ هـ . ق تالیف ) د ساده او روان نثر غوره بېلگې دي.

د احمد شاه بابا د واکمنۍ او د ده د کورنۍ د واکمنۍ پر مهال، پښتو نثر په زړه پورې وده موندلې ده. د عبدالله (احمد شاهی)، د خان العلوم د احمد شاه بابا د اشعارو شرحه ، د پیر محمد کاکړ معرفته الافغاني او نور د دې دورې د نثري آثارو په توگه یادولای شو.

د پښتو ادبي تاریخ د منځنۍ دورې د درېم پړاو په وروستیو کې د نوي او معاصر ادب د ایجادولو او رامنځ ته کېدو لارې برابرې شوې. لیکوالو او شاعرانو د خپلو آثارو په تخلیق کې دا سې لارې چارې خپلې کړې، چې د پښتو د کلاسیک ادب سره یې توپیرونه جوت دي.

د دې دورې لیکوالو د مفاهیمو د بیانولو لپاره ساده او د ولس محاورې ته نېږدې لاره خپله کړې ده او هڅه یې کړې، چې خپل آثار د خلکو د پوهونې لپاره د هغوی پر ژبه ولیکي. د دې ډول آثارو په ډله کې د بېلگې په توگه د نورمحمد نوري افغاني «غنچه روه» (۱۲۸۰ هـ . ق تالیف ) د مولوي احمد (۱۲۶۱ ـــ ۱۳۰۰ هـ . ق) گنج پښتو، آدم خان درخانۍ، د میر احمد رضواني په «شکرستان افغاني» او «بهارستان افغانی» کې راغلي نثرونه او همدارنگه د میا حسیب گل کاکا خېل ژباړلی ناول «نقش نگین» او د میا محمد یوسف ژباړلی ناول (توبة النصوح)، د دې پړاو د نثرونو غوره بېلگې دي، چې په ساده گۍ او روانۍ سربېره ادبي ارزښتونه هم لري او د نوي

په دې وخت کې موږ له استاد نه هم، د یو څه ویلو انتظار یوست. استاد زموږ په هیله پوه شو او یو ځل بیا یې، خپلې مبارکې سترگې، زموږ پر لور راواړولې او دغه ټکي یې وویل :

«ـ موږ تر دغه ځایه در ته راورسوله، نور د تاسې کار دی!»

بیا یې دا خبره وکړه :

«زه به په دغو خاور او ایرو ، یو وخت د ډېرو پوهانو طلایي وخت ضایع کړم.»

او ور پسې یې دغه پښتو بیت ورو ـ ورو زمزمه کړ:

باغ د گلو به سمسور وي موږ به نه یو
د بلبلو به پرې شور وي موږ به نه یو

استاد زموږ په ورتگ سره د خوشحالۍ احساس کاوه او داسې معلومېده، چې سپېڅلی بدن یې له ناروغۍ یو څه سپک شو. استاد په هغه ورځ، موږ ته د تاریخ د مطالعې په اړه ډېر ټینگار وکړ او په روښانه ټکیو یې، دا را ته وویل :

«تاسې یو نوکی تاریخ ولولئ، له هغه پند او سبق واخلئ. که تاسې په خپل تاریخ پوه نه شئ، خپله ټولنه او ادبیات نه شئ پېژندلی.»

استاد زیاته کړه:

«د یو ه خبریال لپاره دا خبره خورا مهمه ده، چې با ید لیکوال وي او په لیکوالۍ پوه شي. د یوه لیکوال او دیپلومات لپاره هم ، په تاریخ پوهېدنه، ډېر مهم او ضروري دي.»

استاد دا هم وویل:

«تاسې وگورئ، پاکستانیانو د خوشحال خان خټک په آثارو لیکلي دي، چې د پاکستان شاعر خوشحال خان خټک او ایرانیانو، د هرات د جامي په دېوان لیکلي دي، چې شاعر فارسی گوی ایران. که تاسې لږ ویښ او بیدار نه شئ، نو موږ او تاسې ته به یو د پښه یې ژبې افتخارات را پاتې وي او نور به پردي را نه غلا او چور کړي!»

موږ د مجلس په منځ ـ منځ کې، د استاد خبرې د تایید په اشاره منلې او دا دوې جملې به د یوه او بل له خولې بیا ـ بیا اورېدل کېدې، چې خدای پاک دې زموږ له مخې مه باسه او خدای پاک دې مه کړوه. استاد زموږ په خواشینۍ او وارخطایۍ ژر پوه شو او له هغه وروسته یې، داسې راته وویل:

«که زه نه وم، پوهاند رشاد شته. هغه خورا لوی عالم دی. هغه د تاریخ، لغت پوهنې، ادبیاتو، دده په مړینې سره، د هېواد د هغه وخت د ژوندیو لیکوالو او شاعرانو زړونه هم داسې مات او له ډېرې خوا شینۍ او خپگانه نیم ځوړند شول، لکه د افغانستان ملي بیرغ، چې د ملي ماتم په ورځو کې نیم ځوړند وي.

د ا ستاد له وفات نه نږدې څلور لسیزې په تېرېدو دي. موږ په دغو څلویښتوکلونو کې، بل داسې علامه پیدا نه کړ، چې زموږ حال له پخوانۍ زمانې سره، د تاریخ په مزي کلک پیوند او وتړي.

زموږ د نن سبا په څېړنو کې، د دغه ستر لیکوال د څېړنې اغېزې ژوندۍ او ښخي جوتې دي. ډېر کم نوي ټکي تر سترگو کیږي، زیاتره هغه کسان چې د تاریخي پېښو د لیکلو مدعیان دي، د ادب او تاریخ دد غه ستوري او نورو ادبي ستورو معلومات سره یوې او بلې خوا ته کوي، مگر دغه نومیالي تاریخ دان به په خپلو څېړنو کې شگې شمېرلې، نوي نوي ټکي یې را سپړل او د کتابتوني او ساحوي څېړنو په ډگرونو کې یې نوې لارې پرانیستلې، په زیاترو تیارو لارو کې یې د ادب او تاریخ ډیوې او مشالونه لگولي دي.

دده د څېړنې لارې چارې، چې څه کم یوه پېړۍ پرې تېره شوې ده، د ننۍ موډرنې زمانې له معیارونو سره برابرې، معیاري او په علمي تول پوره دي. استاد په ډېرو کموموادو، داسې ارزښتناکې څېړنې کړې دي، چې تر ننه پورې زموږ په مخ کې بلې ډیوې دي.

د څېړنې په ډگر او د نویو موضوعگانو د ټاکنې او ارزونې په بهیر کې، د لوی استاد پوهه، عقل او تجربه درې واړه شامل وو. په دې ډول، ا ستاد د حقیقت موندلو او تعقیبولو په برخه کې، له دغو ځواکونو نه پوره ـ پوره گټه اخیستې ده.

کوم تیت او پرک معلومات، چې استاد په خپلو آثارو کې را ټول کړي دي، دغه معلوماتونه، په خپله نه دي تصنیف شوي، بلکې استاد د خپل عقل او علمي تجربې پر بنسټ، د یوه معیار له مخې، دا سې ډلبندي کړي دي، چې سړی ښخې ور ته حیرانیږي .

موږ دا منو، چې د واقعیتونو د موندلو په برخه کې، ډېر تاریخ پوهان لگیا دي، مگر کوم څه چې په دغو څېړنو کې د ډېرې پاملرنې وړ دي، هغه د لوی استاد د کار طریقه ده. د استاد د کار په طریقه کې، د عقل او علمي تجربې ډېره ترجیح لیدله کیږي . شهرت ددې سبب شوي دي، چې گڼ شمېر علمي مناقشې، دده د علمي نظریاتو په وسیله حل او اوارې شي. ځکه د استاد په څېړنو کې حشوې او زواید نشته. استاد په دې ډېر ښه پوهېده، چې څېړنه له کوم ځا یه پیل کړي او څنگه یې پای ته ور سوي. دده ټولې څېړنې د موضوع پر محور لکه مقناطیس داسې څرخي را څرخي، ځکه په هغو کې د استاد نادر عقل، پوهه او تجربه شامله ده. په دې ډول، دغه علامه استاد، د څېړنې په هر ډگر کې، یو پلان شوی، منظم او سیستماتیک کوښښ کړی دی.

د لوی استاد ځینې حکمونه او دلیلونه دومره ښکاره او څرگند دي، چې نورو دلیلونو او نور ثبوت ته اړتیا نه لري او له لري ښخې نوي او تازه برېښي. دده آثار، لکه ژوندی طبیعت، نه یوازې منظم دي، بلکې یو ټاکلی ملي هدف تعقیبوي او په هره برخه کې، د یوې ادبي او تاریخي پدیدې له حدودو، مبدا، ماهیت، بڼې او معنا(شکل او مضمون) څخه بحث کوي او په خپلو څېړنو کې د پېښو تر منځ اړیکې او رابطه څېړي او ادبي پېښې، له تاریخي پېښو سره په تړاو کې مطالعه کوي .

تر کومه ځایه پورې چې دده لاس رسېدلی او معلومات گوتو ته ورغلي، له هغو یې یوه مثبته نتیجه تر لا سه کړې ده او هغه یې ارزولې او بیان کړي دي. څه چې پاتې شوي، نورو ته یې د سمون او پرمختگ په خاطر بلنه هم ورکړې ده. لوستونکي، د استاد د څېړنې په هر ډگر کې، د اړتیا وړ مواد تر لاسه کولای شي. له دې امله ویلای شو، چې دده لیکنې د ډاډ او اطمینان وړ هدفمندې څېړنې دي، چې هره یوه یې په خپل ځای کې ځانگړې اهمیت او ارزښت لري. د لوی استاد لیکنې او څېړنې، کتابونه او آثار، د باور وړ لومړنی مستند تاریخي ریفرنس دی. دده په څېړنو او آثارو کې د اعلی، ادنی او اوسط ډلبندي او تصنیف نشته او سړی دې ته اړ کیږي، چې د انتخاب او غورچاڼ په توگه، دده له ټولو آثارو نه کرښه تاو را تاوه کړي او ور سره دده درنې خاطرې، علمي وړتیا او تواضع ته ، د بې ساري درناوي سر ټیټ کړي.

خوشحال خان خټک په خپلو اشعارو او جیمز ډار مستټر د پښتونخوا د شعر هار و بهار کې «د شیخ ملي دفتر» په نوم په نثر د یوه لیکل شوي اثر یادونه کوي، چې په نهمه هجري پېړۍ کې لیکل شوی.[2]

خو دا چې دا نثر او همدارنگه نور هغه آثار، چې په پټه خزانه کې یې یادونه شوې، تر اوسه نه دي تر لاسه شوي، نو د نثرونو د څرنگوالي په اړه یې څه نه شو ویلی.

د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې د پښتو نثرونو د ودې او پرمختیا بهیر په بېلابېلو پړاوونو کې مطالعه کولی شو.

په لومړي پړاو کې : بایزید روښان په پښتو ادب کې د مسجع نثر د بنسټگرپه توگه پېژنو، چې دغه نثر د ده پیروانو او مخالفینو په ځانگړې توگه اخوند درویزه (۱۰۲۸ هـ . ق مړ) تقعیب کړی او مسجع نثر لیکنه په پښتو ادب کې عامه شوې ده، چې د بایزید روښان خیر البیان او د اخوند درویزه مخزن الاسلام، د مسجع نثر غوره بېلگې دي، خو د دوی ځینو پیروانو د بېلگې په توگه ارزاني (۱۰۱۰هـ . ق) د روښان پیر د عرفاني افکارو او نظریاتوپه تشریح کې، په پښتو روان نثر یوه رساله لیکلې ده. همدارنگه، د ده د بل پیرو علي محمد مخلص یوه عرفاني منثوره رساله په لاس کې لرو،چې په روان پښتو نثر یې لیکلې ده.

د دغې ادبي دورې په دویم پړاو کې، د خوشحال خان خټک په مشرۍ د خټکو کورنۍ په ساده او روان نثر لیکلي او ژباړلي آثار د یادونې وړ دي، چې پښتو نثر په کې پراختیا او وده کړې ده. د خوشحال خان د بیاض په نثرونو سربېره، چې بېلگې یې «تاریخ مرصع» خوندي کړې «دستارنامه» ( ۱۰۷٦ هـ ق تالیف) او د عبدالقادر خټک گلدسته (د سعدي د گلستان پښتو ژباړه) (۱۱۲۴هـ . ق) د افضل خان خټک تاریخ مرصع (۱۱۳٦ هـ . ق) او د عیار دانش (کلیله دمنه) پښتو ژباړه د دې دورې د پښتو نثر غوره بېلگې دي؛ چې پر نورو ښېگڼو سربېره یې د نثر ساده گي ، رواني او محاورې ته نېږدیوالی له مهمو ځانگړنوڅخه دي.

هنري نثر څرکونه په کې تر سترگو شوي. وروسته بیا د پښتو ادب په معاصره دوره کې پښتو نثر هر اړخیزه وده موندلې، د ساده او ژورنالستي نثرونو تر څنگ نوي هنري ادبي ژانرونه هم په پښتو ژبه او ادب کې دود شوي، چې تر ننه پورې یې د ودې او پرمختیا یون په چټکۍ سره پر مخ روان دی.[3]

---

۱. محمد هوتک ، پټه خزانه، دویم چاپ، پوهنې وزارت، د دارالتالیف ریاست ، ۱۳۳۹ لمریز کال ، ۱٦ مخ.

۲. هېوادمل، زلمی، پښتو نثر اته سوه کاله، پېښور، ۱۳۷۵ لمریز کال ، ۱۴۸ مخ.

۳. هاشمي، سید محی الدین، نثري ادب ډولونه ،، ادبي ژانرونه،، چاپ ځای ، وحدت څېړندویه ټولنه. چاپ : ۱۳۹۲ هـ . ش کال.

## مسافر

مسافر یار مې په زړه وریږي
نن یا سبا به را روانیږي
د چای گیلاس کې شمه ولاړه
بل مې له شکوره اوړه تنیژي

## پردی وطن

پردی وطن دی سترگي نمناکي
په پرې لستوڼي خولې کړم پاکي
سخته گرمي ده پردی مزدور یم
کله نا کله پوکم تنکاکي
خالد ریحان

څېړنوال محمدنبي صلاحي

# د خوشحال خان خټک د عصر او چاپېريال پوځي څېړنه

تر مغولو پښتانه په توره ښه دي
که په پوهه پښتانه وی څه هوښيار
(خوشحال خان خټک)

دا کتاب چې د پروفيسور علي احمد جلالي له خوا "د خوشحال خان خټک د عصر او چاپېر يال پوځي څېړنه" په نامه باندې ليکل شوی دی، له تاريخي پلوه، په يوه ډېره مهمه موضوع، له نوښت نه ډکه څېړنه شوې ده. د استاد جلالي په پياوړي قلم، د حضرت خوشحال خان خټک زمانه، له پوځي زاويې نه داسې ارزول شوې ده، چې نه يواځې په دې برخه کې، له پخوانيو ارزونو اوڅېړنو نه، يوه مثبته پايله ترلاسه شوې ده، بلکې دا څېړنه د کمال بريد ته رسېدلې ده.

د پښتنو لوی مشر ـ او فکري لارښود حضرت خوشحال خان خټک ژوند دوه لوی اړخونه لرل، چې يو يې قلم او بل يې ټوپک و. د ده د ادبي او شعري کارنامو په اړه، تراوسه پورې د کورنيواو بهرنيو پوهانو، څېړونکو، شاعرانو، اديبانواو د پوهې او سياست د ډگر ماهرينو له خوا، گڼ شمېر ليکنې شوې دي، مگر د هغه د عصر ـ د پوځي څېړنې په برخه کې، يو داسې دقيق ، له پوځي او علمي غور نه ډک ابتکاري اثر، زما له سترگو نه دی تېر شوی او موږ فکر کوو، چې درنو لوستونکو به هم نه وي ليدلي. په دې برخه کې يو شمېر اشارې، ليکنې اومقالې تر سترگو شوې، خو يوه څېړنه هم، په دغه کچه ازمويلو پوځي فن ورښيي:

په دنيا د ننگيالي دي دا دوه کاره
يا به وخوري ککرۍ يا به کامران شي

او يا دا چې:

ښه ځوانان به خپل هوډ پرې نه ږدي له لاسه
که يې سر شي د خوني زمري تر زامه

له دې امله به ښه دا وي، چې په راتلونکې کې د يو شمېر نورو تکراري او نمايشي مو ضوعگانو پر ځای، د حضرت خوشحال خان خټک، د ژوند پېښو او تاريخي کارناموپه اړه ښه ډېر او گڼ شمېر هېوادني، سيمه ييز او نړيوال علمي ـ تحقيقي سيمينارونه ولرو. موږ پوره باورلرو، چې نوې څېړنې به د ده علمي او ادبي مقام او منزلت لا پسې لوړ کړي.

د کورنيو چارود پخواني وزير دا اثر، ډېرې ښېگڼې لري. کله يې چې سړی لولي، نو د خوشحال خان خټک د عصر پېښې، د گورگاني ستراواکي د منظم پوځ په وړاندې، د خوشحال خان پوځي جدوجهد، د پليواو سپرو ولسي ـ لښکري نظام، د گريلايي او پارټيزاني ډلو او ډلگيو ناڅاپي غرني بريدونه، پياوړی، مضبوط او نه ماتېدونکي مورال، جگړه ييزه روحيه، د دښمن په سترگو کې سترگې غورځول او د آزادي ښونکي هدف پر لور پرله پسې هڅې، له زبردست نظامي استعداد نه ډک او له وخت سره سم، د نوښتگرو تدبيرونو نيوونکي خوشحال خان، د ژوندانه او جنگونو تاريخي کيسې اوگنې

چې څه وخت دلته رارسېدلی دی، زما څېړنو چندان نتيجه ورنه کړه. په دفترونو کې له پخوا څخه دغه ټوپک کله د خوشحال خان خټک او کله د خوشحال د پلار د ټوپک په نامه قيد شوی دی. خو اصلاً داسې ښکاري، چې دا ټوپک د خوشحال خان په پلار شهباز خان خټک پورې اړه لري، ځکه د ټوپک پرمخ


پروفيسور علي احمد جلالي

داسې حک شوي دي: «از سرکار شهباز خان خټک سنه ۱۰۱۸». په دې ډول هم د نامه له مخې او هم د کال له مخې يې لومړنی انتساب شهباز خان خټک ته مسلم ښکاري. خو ښايي، دا ټوپک وروسته بيا خوشحال خان ته رسېدلی وي او د هغه په نامه مشهور شوی وي.»(۱)

د عالم او جاهل تر منځ يو لوی توپير هم دا دی،


علامه اکا ډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد

**اې شاعرانو اې رښتيا د پښتنو خواخوږو**
**ترانې پرېږدئ مرثيې د پښتون قام وليکئ**

**قبر په خپله ده کيندلی دی د ځان د پاره**
**تاسې پر شناخته د کمبخت دغه پيغام وليکئ**

**دلته ښخ سوی د نفاق له رنځه مړ پښتون دی**
**پندځنې واخلئ دا مړ ستون يو د عبرت مړ ستون دی**

ژوره نه ده لیدل شوې. د دې علت دادی، چې د دې موضوع د څېړنې لپاره، موږ تر اوسه پورې، د استاد په څېر پوځي لیکوال نه درلود. د دې موضوع د روښانتیا له پاره، په رښتیا هم یوه داسې لیکوال ته سخته اړتیا وه، کوم چې له پوځي پلوه، د افغانستان ژوره مطالعه کړې او د افغانستان د حرب تاریخ یې لیکلی دی.

حضرت خوشحال خان خټک، په پښتنو کې د حکمت او فضیلت څښتن، یو بېل او استثنایي انسان و. تر اوسه پورې په پښتنو کې د ده په اندازه پوه سړی نه دی تېر شوی او نه یې د ده په اندازه، ژور علمي او ادبي آثار کښلي دي. بل هېڅ د پښتنو سایکالوجي، د ده په څېر نه ده بیان کړې او نه یې د ده په شان، د پښتنو ښه او بد دواړه یاد کړي دي. ښه یې ستایلي او د دوی په نیمګړتیاوو یې، په ښکاره نیوکې کړې او د دې زړور او باتور قوم سترګو ته یې، د پند او عبرت خلی ور وړی دی. هغه د علمي پښتو بنسټ ایښی، د افغانستان د ادبیاتو او د پښتو ژبې اوسنی آب وتاب، ځلا او ښکلا، د ده د غښتلي قلم، نه ستومانه کېدونکو زیارونو، شعوري او اګاهانه مبارزې له برکته هم ده. هغه که څه هم له قبیلوي پلوه خټک و، مګر د خپل سیاسي درایت، ویښتیا او هوښیارتیا له امله یې د افغان په ننګ توره تړلې وه او تر مرګه پورې یې خپله توره په تیکي کې کښېښوده او خپل قلم یې په ځمکه باندې ونه غورځاوه. دا دواړه تاریخي نښې د ده مواریث دي، چې موږ نن پرې وياړو او که هر څومره د ده د ژوندانه مختلف ابعاد وڅېړل شي، په همغه اندازه موږ ته نوی فکر راکوي اوموږ کولی شو، د ګنو اوسنیو ستونزو په هوارې کې هم، د ده له کلاسیکو (لومړۍ درجه ارزښت لرونکو) تعلیماتو نه په زړه پورې ګټه واخلو.

د خوشحال خان د شعري او ادبي آثارو، لوی صفت دا دی چې لوستونکو ته رسا پیغام لري. هغوی ته د ژوند کولو لارې چارې او طریقې ورښیي، ناهیلي ته یې نه پرېږدي، د ننګ او کامراني سبق ورکوي او د زماني له خونکارو، ظالمو، کبرجناو خونړیو زمرو سره، د پنجې پښنې، د یوې پوځي رژې او نظامي پربټ په شان، د سترګو له مخې نه په زبردست شور او زوږ کې تېرېږي، د ګورګاني نیواکګرو په وړاندې مارشونه کوي او د تاریخ په زرینو پاڼو کې خپل اعتراض څرګندوي:

لا په خوب کې په لړزه پرېوزي له کټه
چې د چا تر غوږ زما د توري شرنګ شي

د دې کتاب یوه بله مهمه ښېګڼه دا ده، چې په دغه کتاب کې علم او شخصي-جذبات سره نه دي ګډ شوي. تاریخي پېښو ته هنري پرداز نه دی ورکړل شوی او د یو شمېر شاعرانو او ادیبانو په شان، مبالغه پکې نه ده شوې. مفاهیم ښه سوان او صیقل شوي او ټولې پېښې، د علم په کاڼي باندې تلل شوې دي. په دې ډول، هر څه ثابت، مستند، مدلل او علمي تشریح شوي، لیکوال د وخت معتبرو او زیاترو لومړي لاس سرچینو ته پکې لاسرسی موندلی دی. له دې امله، دا یوه معیاري او اکاډمیکه څېړنه بللی شو.

د استاد د څېړنیز مېتود او د موضوع څارنې او تحقیقي کنټرول، بله لویه خوبي دا ده چې، نورو او بیا په ځانګړې توګه، ځوانو څېړونکو ته یې د څېړنې لاره پرانیستې او د یو شمېر لیکوالو په څېر یې، هر څه په ځان باندې نه دي ختم کړي، بلکې نورو څېړونکو ته یې د نویو څېړنو او ارزونو لپاره، هغو ته د نویو څېړنو لوری او استقامت ورښودلی دی. د لیکنې دا روش، د ریسرچ او تحقیق یو ستندرډ مېتود دی. تاسې د استاد د لیکنې دې کړی ته وګورئ او په هغې کې د استاد علمي تواضع، سنګیني او شکسته نفسي ته، ښه ځیر شئ:

«د دې عصر- د ټوپکونو د څېړنې لپاره، اوس زموږ په لاس کې یوه ښه نمونه شته، چې د خوشحال خان خټک د ټوپک په نامه د افغانستان د وسله وال پوځ د لرغونو وسلو په ډله کې خوندي دی (دا د ۱۹۷۹م کال خبره ده). څو کاله مخکې (۱۹۷۰) چې زه د عسکري موزیم د تاسیس لپاره د یوه کمیسیون غړی وم، دغه ټوپک مې د لرغونو وسلو په ډله کې وموند، چې په دفترونو کې د «تفنګ خټک» په نامه ثبت شوی و. د دې ټوپک د سابقې په هکله چې پوه وايي: «زه تصور کوم» او ناپوه وايي: «زه پوهېږم» او په دې وړ غواړي چې خپله علمي خلا ډکه وښیي، مګر عالم، د خپل علم په رڼا کې ډوب وي او د ځان ښودلو ته اړتیا نه لري. دا ټولو ته څرګنده او ثابته ده.

موږ چې کله د ځینو پوهانو لیکنې ګورو، هلته بېخي یو داسې حالت هم تر سترګو کېږي، لکه یو لیکوال چې یو سړی تر لاس ونیسي-او په څلور لارې کې یې خوشې کړي، د لیکنې په بهیر او پایله کې د لوستونکو لپاره وړاندیزونه، نه لري او بیا نو طبیعي ده، چې ویونکی بېخي حیران اوشول شید پاتې کېږي، چې اوس نو پر کومه خوا سترګې وغړوم او پر کوم لوري ولاړ شم، مګر دا تاریخي او څېړنیز اثر دغه وړ کمی نه لري.

د دې په څنګ کې، دا ټکی هم د یادولو وړ دی، چې استاد که څه هم ښه زیات وخت په بهر کې پاتې شوی دی، مګر په پښتو او دري ژبو یې بشپړه واکمني، نه یواځې له لاسه نه ده ورکړې، بلکې په دواړو د حیرانتیا تر کچې پورې واکمن دی. ډېرې پېچلې موضوعګانې، په لنډو او اسانو کلمو کې داسې بیان او څېړلې دي، چې د انسان په ذهن کې را پیدا شویو پوښتنو ته، په زړه پورې منطقي ځواب په لاس ورکولی او هره یوه په خپل خپل وخت او ځای کې ځوابولی شي.

موږ ویاړو، چې په پښتو ژبه یو داسې قیمتي اثر، د علم او ادب د خپراوي په لړ کې د چاپ او خپرولو ډګر ته راوځي. دا د پښتو ژبې لپاره، یوه بله ستره نېکمرغي ده، چې د استاد جلالي په څېر، د پیاوړی قلم خاوند او نامتو سیاستپوه یې، د داسې نوښتګر اثر په لیکلو سره پالي او د هغې ښایسته او ورښیمین بدن ته، نوې او تازه وینه ورکوي. په قلم دې برکت او له مخې دې رڼا شه.

**سرچینه**

(۱) پروفیسور علي احمد جلالي، د خوشحال خان خټک د عصر-او چاپېریال پوځي څېړنه، کابل، د افغانستان قلم ټولنه، میوند مطبعه، ۱۳۹۰هـ ل. کال، ۴۵ مخ.

# غرونه غرونه خوب په څاڅکي اوبو تنبتي

**رحیم الله حریفال**

حضرت عبدالرحمن بابا وايي:

غرونه غرونه خوب په څاڅکي اوبوتنبتي
یار زما په سیند د اوښکو بیدار نه شو

موږ هم د ډېرو خواخوږوپوهانو په غرونو-غرونو سیند اوښکو له درانه خوبه راویښ نه شوو، په خپل وخت کې هر یوه له راپښو او راروانو ګواښونو څخه خبر کړو، خو د ډېرو غږونه د صحرا د چیغې او آواز په څېر د هوا په څپو کې ورک او پوپناه شول او د دغو غږونو ایستونکي هم ناهیلي او ډک زړونه له موږ نه د زمانې ګردونو تالا ترغه کړل.

کله نا کله خو داسې هم شوي،چې د وخت د بیدارګرو آوازونو ته غوږ نیول څه، چې د خپلې خاورې پرېښودلو ته هم اړ شوي دي، چې ژوندی بېلګه یې، د (مثنوی معنوی) مؤلف حضرت مولانا جلال الدین محمد بلخي، د عصر- بیدارګر سید جمال الدین افغان او همدارنګه، دې ته ورته نور په لسګونو پوهان او شخصیتونه دي.

هو، موږ هغه ملت یو،چې له پېړیو وروسته د خپلو نومیالیو په ارزښت پوهېږو.

زموږ دردېدلې خاوره اوس هم په دې رنځ اخته ده، تر اوسه هم موږ خپل مشران نه پېژنو، لا اوس هم موږ خپل خواخوږي په یو او بل نامه رټلي او لا هم د خپلو خدمتګارانو پر ځای ، په خپلو بادارانو پسې روان یو.

استاد ګل پاچا الفت هم، چې دغو ناخوالو تر پوزې راوستی و، زړه یې ور خوږین کړی و او دا دستور دی، چې له درده څګیروي خېژي، دی هم د خپل زړه خبره داسې راته کوي:

**خدمتګار:**

«هلته یو ړوند بې لارې روان و، هغه پر سمه لاره برابر کړ، مګر ړوند پوه نه شو، چې زما رهبر څوک دی. یو بل په خواږه خوب ویده و، په خوا کې یې یوه منګري سر را اوچت کړ، هغه په بېړه وواژه او ویده هماغسې ناخبره پاتې شو.

د شپې په مسجد کې ناروغه مسافر څګیروي کول، هغه یې په خدمت کې شپه سبا کړه، مسافر سباوون خواته مړ شو او خپل زړه سواندی خدمتګار یې ونه پېژانده، هغه په لاره روان و، یو ماشوم ته یې یو موټی مېوه ورکړه، مګر یوه هم ونه پېژانده، چې دی څوک دی.

له دې لویې لارې نه هغه ډېر اغزي او کاڼي لرې کړل، مګر څوک چې سبا ته پر دې لاره راځي، د هغه له خدمت څخه نه خبرېږي او هغه نه پېژني.

په رښتیاچې موږ خپل خدمتګاران نه پېژنو او باداران ډېر ښه پېژنو.»

هو، د رښتینو مشرانو او خواخوږو دنده همدا ډول وي، چې ډېر د نامه او شهرت تږي نه وي، یواځې او یواځې د خپلو خلکو د سلامتی غم ورسره وي، د خدمت لپاره نه ورځ پېژني او نه هم شپه او د ژوند تر وروستی سلګۍ یې د خپلو خلکو خدمت ته ملا تړلې وي.

خو دا زموږ مسؤلیت دی، چې له هر ځل مار چیچلو نه په امان کې پاتې شو او خپل هر رښتیني او خواخوږي خدمتګار په ټوله معنا وپېژنو. په ژوندانه یې قدر وکړو، خبرو ته یې غوږ کېږدو او په مشورو یې عمل وکړو او خدای مه کړه، که کله دوی راسره نه وي، نو هله به یې په قدر او اهمیت پوه شو، نو خدای مو دې نه یې مشرانو کوي. الحاج محمدالله خان افغان به ویل:

«کوم کور چې مشر- و نه لري، هغه د زمانې توپانونه وړي !»

چهارشنبه ۹ ـ ۱۰مه گڼه، درېمه دوره، پرله پسې ۲۵۷ـ ۲۵۸ مه گڼه ، د ۱۳۹۵ لمریز کال د زمري (اسد) ۲۷ مه ،د ۱۴۳۷هـ.ق. کال، د ذوالقعدةالحرام ۱۳ مه او د ۲۰۱۶ز . کال د اگست ۱۷مه. ۴ مخ

# زېړی

پنځلس ورځنۍ جریده
د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې
مسؤول مدیر: څېړنوال محمدنبي صلاحي
مهتمم: څېړندوی عبدالاحد منگل
کمپوز او ډیزاین: م. ص.
zerai1316@gmail.com
facebook.com/Zeerai1316
۰۷۹۹۸۶۱۲۹۹

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنیز ارگان
د یوې گڼې بیه: پنځه افغانۍ
پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلور لارې، نوی ښار،
افغانستان - کابل_
په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی، په خپله د لیکوالو په غاړه دی.

## انځور د ژوند لپاره

سیدي

ژوند دا نه دی، چې وخورې، وڅښې، واغوندې او ویده شې، بلکې ژوند لوړې او ځوړې لري او دا کږلېچونه هله خوندور او په زړه پورې شي چې انسان ورته له زړه نه کار ووایي، په اړه یې فکر وکړي او خپله انرژي پرې مصرف کاندي، خو داسې نه چې منفي پالنه وکړي، بلکې د سمون لار یې باید پیدا کړي او موخه یې، د بشریت خیر ښېگڼه وي،خو ډېر ځله داسې نه کېږي او په شعوري یا نا شعوري توگه ځینې داسې کارونه له انسانه وشي، چې وروسته پرې پښېمانه هم وي، خو کار شوی وي او په هماغه شېبه کې یې جبران ځکه سخت وي، چې سیاست بخښنه او پښېمانتیا نه مني؛ نو ځکه له ساده خبرو د اوسپنې نینې جوړې شي، خو دا کارونه او دا ستونزې به هوارېږي څنگه؟ څوک به دا جرئت وکړي، چې له لوی چارواکي واخله بیا تر واړه مامور گوټي پورې، ټول خپل عیب او نیمگړتیاوو ته ځیر کړي او په زغرده ورته ووایي، چې ستا رنځ ولس د پاڼ او پړانگ ترمنځ واقع کړی، کومه لاره چې تا په مخ کې نیولې د هغې انجام جومات نه، بلکې ساقي خانه ده او...؛ نو چې کله دا ټولې خبرې او پوښتنې ورته په مخ کې کېښوول شي او ځینې علوم یې له ځوا به عاجز شي، په دې وخت کې مو هنر او هنرمند ذهن ته راشي او دا ژانر ایستي، چې د دغه ډار له منځه وړلو لپاره بنستیز کار، چې هغه د مسلکي فلمونو او ننداروجوړول دي جوړ کاندي، چې په کې انسانیت او بشریت ته درس وي، د عبرت خبرې په کې وي، د ناسمیو سمون په کې له ورایه سترگکونه ووهي، د هیواد او سیمې پرمختگ په کې وي او ان د اوسني ځوان کول له پاره داسې له پند او نصحیت څخه ډک انځورونه وړاندې کړي، چې بل ځوان بیا د پوډر او نشې نوم په خوله هم وانخلي، ورتگ خو یې پر ځای پرېږده؛ نو دا او دې ته ورته دندې د نورو علومو له پاره یو څه ستونزمنې دي او د هر علم ، عالم ته بویه، چې د دغو مواردو د مخنیوي له پاره نوي قوانین او اساسات جوړ کړي او بیا یې د ځانگړو لوایحو په رڼا کې خپلې ټولنې ته وړاندې کړي، خو ډرامې یا ننداري ته دا ټولې خبرې ډېرې ساده او بې تکلیفه دي او په ډېرې اسانۍ زما او ستا د زړه خبره کولای شي، نو چې دومره ځانگړنې او خوبۍ لري او ولس یې تر شپول لاندې راوستی، ولې یې په اړه څو خبرې ونه نغوږو:

پوهان وایي ډرامه هغه کیسه ده، چې په تیاتر کې د لوبو لپاره تنظیم شوې وي او لوبغاړي یې لیکل شوې خبرې په ستېج داسې ولوبوي، چې ته وا ژوندۍ پېښې وړاندې کوي یا په بله وینا، ډرامه د انساني ژوند د

## د ادبي او فرهنگي خبرونو کرونولوژي

**څېړندوی محمد اصف احمدزی**

### د "کاریکلماتور پېژندنه" تر سرلیک لاندې علمي ـ څېړنیز کنفرانس ترسره شو

د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز علمي غړي څېړندوی محمداصف احمدزي د «کاریکلماتور پېژندنه» تر سرلیک لاندې علمي – تحقیقي کنفرانس، د ۱۳۹۵ لمریز کال د زمري د میاشتې په ۴مه نېټه وړاندې کړ. په دې علمي ناسته کې چې لسگونو پوهانو په کې گډون کړی و، د یادې موضوع له بحث وروسته، احمدزي د ځینو استادانو پوښتنو ته ځوابونه هم وویل.

### "کابل ادبي بنډار" خپله نوبتي ادبي ناسته وکړه

کابل ادبي بنډار خپله دوه اونیزه ۷۷مه غونډه د زمري په ۸مه، قرغې ته څېرمه د غازي محمد جان خان د ښوونځي په انگړ کې وکړه. په دې غونډه کې لومړی د "دیدار" تر سرلیک لاندې کیسه باندې کره کتنه وشوه. له کره کتنې وروسته مشاعره وشوه، چې گڼ شمېر شاعرانو او د ادب او فرهنگ مینه والو، په کې خپل شعرونه او غزلونه وړاندې کړل.

### "د پښتني فولکلور په بډاینه کې د محمدگل نوري ونډه" علمي ـ څېړنیزه پروژه دفاع شوه

د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز علمي غړي نامزد څېړنیار لطف الله صابر، له خپلې علمي – څېړنیزې پروژې "د پښتني فولکلور په بډاینه کې د محمدگل نوري ونډه" څخه په بریالیتوب سره دفاع وکړه. په دې اړه جوړه شوې علمي ناسته کې، چې د زمري په نهمه ترسره شوه، لسگونو پوهانو او استادانو گډون کړی وو.

### د علمي، ادبي او فرهنگي شخصیت پوهاند امرخېل درناوی وشو

د وزیر محمد گل خان مومند د فرهنگي ټولنې د بنسټ او د میدان وردگو ولایت د ځوانانو د مدني بنسټ غړو ځوانانو د زمري په ۱۲مه، د پوهاند ډاکتر نجیب الله امرخېل کره وړه او فعالیتونه وستایل. دا غونډه چې د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د مطبوعاتو په نړیوال تالار کې جوړه شوې وه، ویناوالو په کې د امرخېل د فرهنگي، سیاسي، ټولنیزو او مدني فعالیتونو په باره کې خبرې وکړې او د ده د علمي او ادبي آثارو یادونه یې وکړه.

### دوکتور لطیف بهاند او په پښتو ادبیاتو کې د کره کتنې بهیر

د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت په تالار کې د زمري په ۱۳مه، یوه ادبي ناسته ترسره شوه، چې دوکتور لطیف بهاند په کې په پښتو ادبیاتو کې د کره کتنې بهیر تر سرلیک لاندې موضوع باندې هراړخیزه رڼا واچوله. نوموړي دغه راز په پښتو ژبه کې د کره کتنې او د تولستوی د "جگړې او سولې" د کتاب د ژباړې په باب خبرې وکړې او ویې ویل، د کاراموزوف د کتاب ژباړه یې تر لاس لاندې ده. په دې غونډه کې چې لسگونو جگپورو چارواکو او گڼ شمېر لیکوالو په کې برخه اخیستې وه، بهاند پر یادې موضوع له گډونوالو سره بحث وکړ او د هغوی پوښتنو ته یې ځوابونه وویل.

د ولسمشر فرهنگي سلاکار اسدالله غضنفر وویل، چې ډاکټر بهاند د روسي ژبې د لیکوال تولستوی د "جگړې او سولې" مشهور کتاب په پښتو ژبه ژباړلی دی، چې د ژباړې په برخه کې ادبي نوښت بلل کېږي.

په یاده غونډه کې د یاد بحث ترڅنگ د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د ډاکتر لطیف بهاند ادبي او فرهنگي کره وړه و ستایل. په پای کې هغه ستاینلیک او د ستاینې لوحه، چې د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت له خوا برابر شوي وو، ډاکټر بهاند ته ورکړی شول.

### "یو لیکوال یو خدمتگار" مستند فلم ننداري ته وړاندې شو

"یو لیکوال یو خدمتگار" د استاد عبدالله بختاني خدمتگار د ادبي ژوند په اړه جوړ شوی مستند فلم دی چې د زمري په ۱۳مه په کابل کې د ملي تلویزیون په سینمایي تالار کې ننداري ته وړاندې شو. د دې مستند فلم د پرانیستې او کتنې په غونډه کې لسگونو فرهنگیانو، دولتي چارواکو او د استاد بختاني مینه والو گډون کړی وو. یاد فلم د ملي تلویزیون، افغان هنر پروډکشن له خوا د گویته انستیتوت او خیر بنسټ په مالي مرسته جوړ شوی دی، چې د لار ښوونې چارې یې د محبوب الله محبوب له خوا ترسره شوې دي. همدارنگه، د دې مستند فلم د ننداري په څنډه کې د ولسمشر ـ فرهنگي سلاکار اسدالله غضنفر، د ملي تلویزیون عمومي رئیس زرین انځور، د گویته انستیتوت مشر ابراهیم هوتک او د افغان هنر پروډکشن مسوول محبوب الله محبوب لنډې ویناوې هم وکړې. (سرچینه: تاند وېبپاڼه)

په ښکاره راته وايي:

زه یم زمری پر دې نړۍ له اما اتل نه سته
پر هندو سندو پر تخار او پر کابل نه سته
بل په زابل نه سته
له ما اتل نه سته

کله چې د ډراماتیک ژانر دا کړیکه د انسان تر غوږونو ورسېږي، نو بیا د دې خبرې منښتي ته هم چمتو کېږو، چې د ننداریک یا ډرامې له راتګه وړاندې د ټولو انسانانو په ځانګړې توګه د پښتنو ژوند بې خونده، بې هنره او بې انځوره و، ځکه ذهن عیني انځور غواړي، خو له ډرامې وړاندې ژوندي انځورونه، نه وو، مشرانو او انې ګانو به د پیریانو، ښاپیریانو، شیشکو او رویو کیسې کولې او دا ښکارندې به یې دومره مضرې، وحشتناکې، ډارونکې او انسان خوړونکې را معرفي کولې، چې تر اوسه ترې د ځینو انسانانو زاره چوي او بې له ملګري په مرګ هم د شپې له خوا یواځې له کوره او ان له کوټې نه وځي.

د غه ډول کیسې، د اسلام سپېڅلي دین کابو ۱٤۰۰ کاله پخوا او ننني طب هم په کلکه غندي او وايي، چې ماشوم ته باید د ډار او وحشت کیسې ونه شي، ځکه ډار او وحشت د انسان جرئت تروړي او یو ډول رواني ستونزه او اختلالات ورته پیدا کوي، چې ګانده یې احساساتي، جنګي او یا هم ستونزې زېږوونکي انسان دی، نو ځکه باید انسان هر هغه وحشي شی یا ښکارنده، چې ویني ورسره جوخت باید دا هم پرې ولیدل شي، چې انسان پرې برې مومي او ډاروونکي مجوزه که هر څومره له ځواک و ډار نه ډکه وي، بیا هم وسه یې پر انسان نه رسي او د همدغې خبرې د سپیناوي او رښتیاینې لپاره نن سبا د نړۍ د اروپوهنې ځانګوالو حکومتو نه اړ

یوې برخې د غم، خوښۍ، مینې او کرکې، هیلې او ناهیلۍ د حالت د سرګذشت بیان او ښودنه ده، چې نېغ په نېغه او یا هم د انځور په وسیله انسان ته د هغه د کارونو د جبران او سمون په موخه ښوول کېږي. که چېرې پایله یې خندوونکې وي، کومېډي ډرامه بلله کېږي او که اپوټه وي، نو بیا یې تراژیدي ډارمه بولي.

اوس وینو، چې ډرامه د انسان د ژوند لپاره پنځول کېږي او په حقیقت کې د انسان د ژوند یوه برخه هم ده، چې د انځور ژبه پیدا کوي او ناسمۍ پرې سموي. یعنې انسان له خطاوو څخه خالي نه دی. هر انسان، چې کار کوي، ستونزې او خطاوې به هم کوي، خو هوښیار انسان هغه دی، چې بېرته یې ترمیم او په ګانده کې یې تکرار نه کړي. د ترمیم او مخنیوي ترټولو ښه وسیله یې د ډرامو یا ننداریکونو د هغو صحنو لیدل او پرې غور کول دي، چې د همداسې ستونزو د تکرار له امله انځور شوي او د اصلاح لار په کې ښوول شوې وي، ښایي د ډرامې د اصلاح په دې لار کې هم د لیکوال یا راوي خپل شخصي ـ نظر دخیل وي او لکه څنګه، چې باید سمون په کې راولي هغه په کې نه وي، خو لږ تر لږه یو څوک خو خپلې ستونزې ته ځیر کولای شي او په دې یې پوه کولای شي، چې په ناسمه لار روان دی او انځور یې غوره لار ځکه ده، چې د انځور په اړه مشهوره مقوله ده، چې یو انځور د سلو خبرو استازي کوي، یعنې د انسان پر ذهن تر نصیحت انځور ژر او زیات اغېز ښندي او ډېر ځله هغه ماشومان هم په ټولګیو کې لایقه او تیز هوشه وي، چې په مکتب کې تر شاملیدلو وړاندې ورته کورنۍ د ماشومانو انځوریز کتابونه راوړي وي او د هر انځور په اړه یې ورته زیاتې خبرې کړې وي، یعنې معنا دا چې انځور د انسان په ذهن کې انځورېږي او تتبدل یې ډېر وخت غواړي، خو نثر بیا ژر تت او ورک شي.

## پښتو ژبه څنګه معیاري کړو ؟!

له درنو لوستونکو نه، د تېر په څېر، یو ځل بیا، په ډېر درنښت سره هیله کېږي، چې د پورتنۍ موضوع په اړه مضمون را ته ولیکي، که دا مقاله کوچنۍ هم وي، خو چې دقیقه او علمي وي، «زېرى» یې په ورین تندي مني.

### "مونږ په خپل شعر کې"

د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د ماشومانو له پاره د یوه چاپ شوي کتاب (مونږ په خپل شعر کې) مخکتنه و شوه. دغه کتاب چې "د افغانستان د ماشومانو د ادبیاتو کور" چاپ کړی، د یو شمېر نجونو شاعرانو هغه شعرونه په کې دي، چې ماشومانو ته یې په پښتو، دري او انګلیسي ژبو لیکلي دي.
د دغه کتاب د مخکتنې غونډه کې چې د ماشومانو د ادبیاتو کور له خوا د زمري په ۱٦مه، د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په تالار کې جوړه شوې وه، لیکوالو او د ماشومانو د ادب متخصصانو عبدالغفور لېوال، علم ګل سحر، رفیع الله نیازي، محبوب شاه محبوب، بیت الرحمن رودوال، محمود مرهون، جلال نوراني او عمران یوسف د کتاب په اړه خبرې وکړې او دا یې د افغانستان د ماشومانو د ادبیاتو په برخه کې یوه بله معتبره زیاتونه وګڼله.
"د ماشوم د ادبیاتو کور" مسوول اجمل تورمان ګډونوالو ته ډاډ ورکړ، چې د ماشوم د ادبیاتو په دې برخه کې به خپلو هڅو او فعالیتونو ته دوام ورکړي.
په یاد کتاب کې د چاپ شویو شعرونو د شاعرانو په استازیتوب فرشتې صالحي له ویناوالو مننه وکړه او ویې ویل، چې له غونډې یې ډېر څه زده کړل او په راتلونکو پنځونو کې به پام ورته وکړي.
د یادونې ده چې دغه کتاب د "مورا تعلیمي کمپلکس" په مالي ملاتړ، په زرو ټوکونو کې چاپ شوی، چې د پلازمېنې کابل د ماشومانو ترڅنګ به د ولایتونو پر ماشومانو هم وویشل شي.
"د ماشوم د ادبیاتو کور" له فیسبوک پاڼې څخه.

### خاک جبار ولسوالۍ کې کلتوري بهیر پرانیستل شو

د کابل په خاکجبار ولسوالۍ کې د "خاکجبار کلتوري بهیر" د زمري په ۲۲مه، پرانیستل شو. په دې غونډه کې چې د سګونو فرهنګیانو، ادیبانو، استادانو، محصلینو او زده کوونکو په کې ګډون کړی و، ویناوالو د دغه ډول فرهنګي بهیرونو په مخینې او ارزښت خبرې وکړې. د غونډې په وروستۍ برخه کې مشاعره و شوه، چې شاعرانو په کې برخه واخیسته او خپل شعرونه یې په کې وویل. یاده دې وي چې د دې بهیر غونډې به په میاشت کې یو ځل د دې ولسوالۍ اړوند په خوردکابل عالي لېسه کې ترسره کېږي.

### د خپلواکۍ د بېرته اخیستلو د ۹۷مې کلیزې په ویاړ مشاعرې جوړې شوې

په ننګرهار، بلخ، بغلان او څو نورو ولایتونو کې، د خپلواکۍ د بېرته اخیستلو د ۹۷مې کلیزې په ویاړ مشاعرې جوړې شوې.
د ننګرهار په مرکز جلال اباد کې د زمري په ۲۷مه ماښام مهال ځانګړې مشاعره جوړه شوه، چې شاعرانو په کې د خپلواکۍ ورځې ته ځانګړي شوي او نور لیکلي شعرونه ګډونوالو ته وړاندې کړل او هم په کې تمثیلي پارچې ننداري ته وړاندې شوې. په دې ناسته کې له چارواکو سربېره په ننګرهار کې د هندوستان، پاکستان او ایران قونسلرانو او ګڼ شمېر نورو مېلمنو ګډون کړی و.
همدارنګه، په بلخ کې هم د یادې ورځې په مناسبت، د باختر ادبي بهیر او لټون مجلې اداري له خوا مشاعره د زمري په ۲۸مه ترسره شوه، چې ځوانانو په کې ملي احساسات د شعر په ژبه بیان کړل.
دغه راز په بغلان کې هم د امیر کروړ ادبي بهیر له خوا د هېواد د خپلواکۍ د بېرته اخیستو د ۹۷مې کلیزې په اړوند مشاعره وشوه، چې شاعرانو په کې خپل ښکلي شعرونه د مشاعرې ګډونوالو ته وړاندې کړل.

### "قلم په لاس شپون"

د افغانستان قلم ټولنه، د زمري میاشتې په ۳۰مه نېټه، د ناول لیکوال استاد سعدالدین شپون د ادبي غونډې کوربنه وه. په دغې ادبي غونډه کې د نوښتګر انځورګر حمدالله ارباب انځوریز نندارتون، د غونډې د برخه والو له پاره وښودل شو.
د ولسمشر سلاکار لعل پاچا ازمون، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مرستیال زردشت شمس، نجیب منلي، مطیع الله عابد، اجمل ښکلي، ضیاءالحق امرخېل، څېړنوال محمد نبي صلاحي او محمد نواز حقیقت سانین د استاد شپون د لیکوالي او هنر او د دغه انځوریز نندارتون د هنري، فکري، ملي او ښکلاییزو ارزښتونو په اړه ویناوې وکړې.
وروسته استاد شپون د خپلې لیکوالۍ په باب خپلې خاطرې بیان کړې.
ګډونوالو دغه انځوریز نندارتون، د ځوانانو د فکري خوځون له پاره ډېر ګټور او ارزښتناک وباله. د غونډې د پای په شېبو کې، د افغانستان قلم ټولنې ځینې ستاینلیکونه، د دغې ادبي غونډې په یو شمېر برخه والو ووېشل.

### د ترکیې سینما د "شربت ګلې" په ژوند فلم جوړوي

په پېښور کې د اتیایمې لسیزې پر مهال د کډوالې پېغلې "شربت ګلې" په نامه د افغان نجلۍ یو انځور چې، شاوخوا ۳۰ کاله وړاندې د یو تن امریکایي عکاس ستیو مرکوري له خوا اخیستل شوی و او نړیوال شهرت یې ګټلی و، ان د دې سبب شو، چې اوس پرې فلم جوړېږي.
د راپورونو له مخې، د ترکي فلمونو او ډرامو یوې اداکارې، د شربت ګلې له کیسې نه په الهام اخیستلو سره وپتېیله ،چې په افغانستان کې فلم جوړ کړي. دا اداکاره اویکو کره یل نومېږي، چې د "غبار" په نامه یو فلم کې، چې په افغانستان کې جوړ شوی، کار کړی دی. کره یل په فلم کې د عزرا په نامه د یوې افغانې نجلۍ رول لوبوي ،چې د خپلې مور د وصیت د پوره کولو له پاره افغانستان ته ځي. اویکو کره یل د دې فلم د جوړولو په موخه، په افغانستان کې یوه میاشت تېره کړې ده.
ټاکل شوې ده، چې دا فلم په کاناډا کې د مونتریال د فلمونو په نړیوال فستیوال کې، د لومړي ځل له پاره په نړیوال سطحه ننداري ته وړاندې شي. د شربت ګلې د فلم جوړوونکې چې ګوزده کورال نومېږي، وايي چې په افغانستان کې د فلم جوړول د ده په ژوند کې تر ټولو لویه تجربه وه.
د غبار په نامه فلم ،چې کابل په لارو او کوڅو کې ډک شوی دی، په کې د مینې او هجران کیسه د سینما پردې ته لېږدول شوې ده. (سرچینه: تاند وېبپاڼه)

